


د مولانا سعيد افغاني : آزاده ، ټولنيزه ،علمي ، فرهنګي او نشراتي ارګان ته ښه راغلاست!



# انجنيرعبدالقادر « مسعود »

د نشر نېټه : ۲۰اپريل ۲۰۱۴ ميلادی




## دُعـــا

ای دحسن او نُور دریابه! ما له یو ټکی د نُور را
سترګې ډکې د خندا را، شونډې ډکې د سرور ر
ا
زهٔ دې خپل ورکوکي زړګي له یوه نخښه د یار غواړم
ای د حسن او نُور دریابه! ما له یو ټکی د نُور را

دې تک تور د غم محل له يو بڅرى د رڼا را
سترګې ډکي د خندا را، شونډې ډکي د سرور را

دې مستۍ او دې ارمان له يو تصوير د جانان راکړه
ستا په مينه نازيدل را، ستا په ښکلي مخ غرور را

دې د خودسوي باغچې له، يوه وعده د بهار غواړم
زهٔ دا نهٔ وايم چې جنت را، زه دا نهٔ وايم چې طور را

د دې خوب او ساه او وخت اشاره د تعبير راکړه
ما له زړهٔ د بادشاهانو او سينه د يو فقير را
*****

## اروابناد غني خان

***




## منـــم

ولاړ ومه په اور کښې ما وې اور زما قسمت
لمبې د قسمت نهٔ وې ، وې لمبې زما د نيت

نهٔ بخت او نهٔ کمال منم، نهٔ توره نهٔ جلال
یو ستا د سترګو خیال منم او ستا د شونډو ست

نهٔ ګل، نهٔ دلربا منم، نهٔ حسن، نه بهار
یو ستا د خندا راج منم بې تاج بې سلطنت

نهٔ چل او نهٔ تدبیر منم، نهٔ عقل ، نهٔ تقدیر
یو زیر د سپرلي ګل منم، ضامن د یار د پټ

****

شاعر : اروابناد غني خان

ترتیب کوونکی : انجنیر عبدالقادر « مسعود «

اصلی صفحه ته – www.said-afghani.org